بشیر دودیال

۲۰۲۱/۰۱/۲۰

# خان عبدالغفار خان

## د زغم، سولې، ملی ترقی او آزادی سمبول

(د خان عبدالغفارخان، فخرافغان د وفات د ۳۳م کال په مناسبت)

د نړی د نامتو ملی مبارزینو، د استبداد، استعمار او تبعیض کلکو مخالفینو او مدبرو سیاستمدارانو، د تساند، زغم، عدم تشدد او سولې نامتو ځیرو، ملت ته د خدمت په لاره کې د سترو او ستومانو او ترټولو زیات د جیل په تورتمو کې د غورځیدلو ملی مشرانو او د ملت په درد د رېښتیو دردېدلو وتلو ځیرو په لړ کې یو نوم د خان عبدالغفار خان دی چې د انسانی ارمانو په آسمان کی لکه لمر ځلیږی. ده سره نور یو شمیر کسان هم څه ناڅه پرتله کیدای شی لکه: نلسن منديله، ګاندهی، مارتين لوترکينګ، سير سيد احمد خان او مولانا ابوالکلام آزاد . باچا خان د ملیونو پرګنو د آزادی، عدالت او خوشبختی په مبارزه کی قربانی، ستومانی او هر راز ربړونه و ګاللې، خو زغم یې خپله کړنلاره ګرځولې وه چې همدغه د زغم او د عدم تشدد کړنلارې د ده نوم ابدی کړ.




خان عبدالغفر خان د انګریزی استعمار پرضد لوی مبارز، آزادیخواه، نامتو اتل، د پښتنو مهربان مشر، د قوم لوی خدمتګار، د انجمن اصلاح الافاغنه بنسټ اېښودونکی. متواضع اومتقی مسلمان، د دینی علومو عالم، جراروېناکوونکی، زړه سواندی رهبر، عادل مشر، دخدایی خدمتګارو د غورځنګ بانی فخرې افغان ، باچا خان چې د بادشاه خان او د سرحد ګاندي په نوم هم یاد شوی، د پېښور په هشنغر سیمه د اتمانزو په کلي کې د خان بهرام خان محمدزي په کور کې کال ۲۰ - ۱۸۹۰ جنوري ۱۹۸۸)زېږېدلی. دی د عدم تشدد په موخه یې د خدايي خدمتګار یوه تولنه جوړه کړه او د انګریز په مقابل کې د وخت د نوموتي هندي سياستوال مهاتما ګاندي سره یې یو ځای د انګرېز داشغال پر وړاندې مبارزه پیل کړه.


برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com

عبدالغفار خان د ترنگزو دحاجی فضل واحد تارڼ کاکړ په ملگرتیا د استعمار په ضد د افغانانو د راوپښولو او ملي حکومت د جوړولو له پاره تاریخي کارنامی په سر رسولی دي. خان عبدالغفارخان په ( ۱۹۲۰ م= ۱۲۶۸ ش) کې د خلافت د تحریک په بهیر کې له یو زیات شمیر خلکو سره کابل ته هجرت وکړ او د بیرته تلو په وخت کې یې د انجمن اصلاح الافاغنه ټولنه جوړه کړه. دغه ټولنه په ( ۱۹۲۹ م= ۱۳۰۷ ش) کې د خدایی خدمتگارانو په ټولنه بدله شوه، خان عبدالغفارخان په ( ۱۹۳۱ م= ۱۳۰۹ هـ.ش) کال کې د کانگرس په ملگرتیا د هند د نیمی وچی د ازادولو له پاره زیاتی مبارزی وکړی او له ۱۹۳۱ را په دي خوا د استعمار سره د مخالفت به جرم په اوه کاله بند محکوم شو. فخر افغان خان عبدالغفار خان په لومړي لوی نړیوال جنگ کې د انگرېزانو سره د عدم تعاون په جرم د کانگرس له نورو مشرانو سره دوه کاله په زندان کې و او د ( ۱۹۴۷ م) کال راپه دي خوا د پښتنو ملی خپلواکی د غوښتلو په جرم پاکستاني حکومتونو د استعمار د لاسه په وار وار جیل ته لیږل شوی ؤ. خان عبدالغفارخان (فخر افغان، پاچا خان) په خپل یوه تاریخي لیک کې د ( ۱۹۳۵ م) د مي په پنځه ویشتمه چې د سابرمنی، سنټرل جیل احمد اباد څخه یې د حکیم عبدالخالق خلیق په نامه لیکلی دی داسی وایي:

خوږه خلیقه خوشاله اوسي. السلام علیکم ورحمته الله و برکاته: د بمبئی نه د جدا کیدو په وخت کې ما تاسره وعده کړی وه چې زما په خیال کې هر وقت ستاسو متعلق څه خبر راشی نو تاسو به پری خبروم، لیکن ژر تر ژره گرفتار شوم. جیل خانه کې مي هم ته یادوی او خدایي خدمتگار مې هم هیر نه وو لیکن داسي څه خیال مي پیدا شوی نه وو چې تاسو ته می لیکلی وای تاسو به زما د قید په حقیقت رسیدلی یي، زما جرم صرف دومره وو چې ما د سرحد او دخدایي خدمتگارو متعلق خلکو ته لړ غوندی حالات څرگند کړي وو. د هندوستان دخلکو د سرحد او خدایي خدمتگارو سره دومره مینه او محبت دی چې زه په دوره هرې صوبی ته تللی یم، نو د خلکو اوله مطالبه دا وه چې موږه د سرحد او خدایي خدمتگارو د تحریک حقیقت بیان کړو. خیر دې کې به خیر وی. د الله تعالی هر کار د خیر دی ولی مونږ پرې نه پوهیږو ځکه چې موږ ظاهر بین یو. لږ غوندی ظاهری تکلیف چې راباندې راشي نو بیا مو وار خطا وي . زه په خپل قید خفه نه یم ولی چې څه وخت زه بهر شوم نو ما ته دا خبره ښه ښکاریده چې زه خو د بهر یم او زما بعضی خدایي خدمتگاران وروڼه دی په جیل خانه کې وی، ماصرف دا خبره د خپل ځان د پاره ښه گڼله. خدایي خدمتگاران ورونو چې د جیل خانو بی اتفاقی ، بهر ځان سره راوړی وی ، هغه یې پرېښودی که لا هغه شان پکښې اخته دی؟، که چیرې په صداقت سره یې دا بد عادتونه پرې نه ښودل او ریښتیني خدایي خدمتگاران نه شوو ، نو دا ټولی قربانی به په سیند لاهو شي او زموږ د کامیابی راز په رشتیني خدایي خدمتگارانو کې دی. زه چې کله دې جیل ته راغلی یم نو همېشه ناجوړه یم، ولی چې د دی ځای اب او هوا په ما صافه نه ده. بل زه یوازې یم داسی یو سړی نشته چې تبادله خیالات ورسره وکړم. زما په خیالاتو که چیری زه سرحد یا پنجاب ته بدل شم نو شاید چې ښه شم لیکن د پنجاب او سرحد حکومتو زما د اخیستو نه انکار وکړ او تر اوسه پورې دې حکومت هم زه بلي جیل خانی ته بدل نه کړم. تاسو زما څه فکر مه کوئ ، خپل کار کوئ، که چیری الله تعالی زما د وجود نه د خپل مخلوق خدمت اخستل منظور وي نو ما له به صحت هم راکړی. دا د هغه طرف نه په ما یو بل ازمایش دی. تاسو راته دعا کوی چې ما پکښې الله تعالی کامیاب کړی او ما له صبر او استقبال راکړی. زه قیدی یم، زه هر چاته خط لیکلی نه شم ولی چې زما خپل اختیار نه دی. دا خط زما ټولو خدایي خدمتگارو ته ښکاره کړی او زما ډیر سلامونه ورته ووایاست. زه همېشه تاسو ته دعا کوم


برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com

او امید دی چې تاسو به هم هره جمع کې ماته دعا کوی چې الله تعالی ما د دی لایق کړی چې زه د هغه د مخلوق خدمت وکړی شم او ماته روغ او ښه صحت راکړی.

*آمین، فقط ستا ورور عبدالغفارخان .*

پاچا خان د خپلواکی د اخیستلو په اړه وایي: له خلکو سره د ناستې ولاړې، لیدنو او کتنو څخه وروسته دې پایلې ته ورسېدم چې د خپلواکي اخیستل اړین دي او دې کار لپاره باید خلک لوستي شي، تعلیم وکړي، خپلواکي وپېژني، د خپلواکۍ په ګټو او ارزښت پوه شي، پاچا خان یو له لویو او قوي شخصیتونو څخه وو چې د فکري ثبات، د خپلواکۍ د ترلاسه کولو، د ملت د پوهې د کچې لوړولو، د تعصب او تاوتریخوالي له منځه وړلو، د اسلامی واقعی اخوت خورولو، د نجونو د تحصیل په اړه عامه ذهنیت جوړولو، د هر ژوندي حقونو ته درناوی، د الله (ج) په ځمکه کې ارامتیا راوستلو او همدارنګه د بشر د هوساینې لپاره یې نه ستړي کېدونکي هلې ځلې وکړې.

پاچا خان په دې نظر و چې له تاوتریخوالي څخه د خلاصون یواځینی لاره د ښوونې او روزنې د کچې لوړول دي ، په دې خاطر یې د پېښور په بېلابېلو سیمو کې د ښوونځیو جوړولو ته شروع وکړه. ده په دې برخه کې ډېرې ستونزې وګاللې. هغه د ذوالفقار علی بهټو د حکومت په وخت کې د نیشنل عوامي پارټی د صوبايي حکومت په بلنه په ( ۱۹۷۰ م) کې د کابل څخه پېښور ته ولاړ او کله چې هغه حکومت ړنګ شو بیرته افغانستان ته راغی او تر ( ۱۹۸۰ م) کال پورې کله په کابل او کله په ننګرهار کې او سیده. دی د افغانانو ، د ملی آزادي غو ښتونکو او وطنپالونکو لوی لاربنود او (بابا) وو او حضور یې د افغانستان او سیمې د ازادیخواهانو بل مشعل وو. د هند له خپلواکۍ څخه وروسته د پاچا خان په اړه د هند لومړني لومړي وزیر جواهر لعل نهرو په یوه تاریخی وینا کې ویلی و: پاچا خان به له یوه کلي څخه بل کلي ته ورته، ترڅو سرخپوشان په خپلو ځانونو اتکا پیدا کړي. نوموړي د پاکستان د رامنځته کېدو څخه دمخه او بیا وروسته، د لوی هندوستان او لوی افغانستان بیلابیلو سیموته سفرونه درلودل. حقیقت دا دی چې خان عبدالغفار خان افغانستان خپل لومړنی کور باله او د کابل حکومتونو هم ورته په ډېر درناوي قایل وو، له بده مرغه دده وروستی عمر په افغانستان او سیمه کې د تېزو جګړو شاهد و . خان عبدالغفارخان په هغه لیک کې چې د )عبدالغفارخان فیټ ازای بیټل) د (ډی، جی تندر اثر(، ) Abdul ghafar khan fait is a battle D.G Tender )دکتاب له پاره لیږلی او هغه دغه لیک د خپل کتاب په څلورم مخ کې لیکلی دی، د خپل ژوندانه او عقیدې په باب داسې لیکی ...) : زه چې د اتو، نهو کالو وم او په پیښور کې مې په سکول کې سبق وایه نو اکثره مې لوبی د بنګیانو د بچو سره کولی، زه به هغه خپلو ملګرو منع کولم چې دا خو چوړیان دی؟ د دوی سره ولی لوبې کوی، ولی زه به د هغوی په دی خبرو نه منع کیدم او نه به زما په زړه د دی خبرو اثر کیدو. چې زه زلمی شوم نو زما تعلقات به اکثر د با کسته خلکو سره وو، زما دوستان اکثره لوواران، جولاګان ، ترکانان، شاخیلان و ، حالانکه زه د خان زوی وم. زه چې هلک وم نو د قصی اوریدلو سره مې ډیر شوق وو او دا قصې به مې زیاتی د خولو او یا کتابو کې اوریدی او ډیری به مې خوښی وې. بیا مې ژر په طبیعت کې تبدیلي راتله او داسی کتابونه مې خوښ وه چې په هغو کې د داسې خلکو حالات چې چا به د انسانیت او د خدای د مخلوق له پاره ډیر تکلیفونه او مصیبتونه تیر کړی وو راغلی وو. دانګریزانو په وتلو سره او د هند د استقلال په ترلاسه کولو سره فخر افغان په زغرده د هند په دوه برخو وېشنې سره مخالفت درلود، دی ۱۲ کاله د اګریزانو له


برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com

خوا بندی شو . د پاکستاني حکومت لخوا هم شاوخوا ۲۲ کاله جېل ته د افغانانو د قبایلو د یووالي لپاره د کار له کبله د لګول شویو تورونو له امله تر نسلن مندیله او ډیرو نورو مبارزینو، ډیر کلونه زنداني شوی دی،
فخر افغان په پښتني ټولنه کې نه یوازې چې د پوهې او علم د هڅولو عملي کار پرمخ اچولی و ، بلکه د هند ، پاکستان ، او بنګله دېش وګړي یې هم راوپښ کړي و او ورسره یې خپل انساني غږ اوچت کړی و او لومړی یې د هغوی د حقوقو لپاره چې د انګرېز له غلامۍ څخه خلاص شي متې راونغاړلې ، له همدې کبله ورته د هند د لومړي خپلواک حکومت رامنځته کېدو سره د ولسمشرۍ د څوکۍ غوښتنلیک ورلېږل شوی و . ده د یوه غښ منصب د ترلاسه کولو په ځواب کې ویلي و چې څومره چې زه اوس خپلو خلکو ته ښه خدمت کولای شم او د دوی منځ کې ځان خوښ احساسوم د منصب او چوکۍ په ترلاسه کولو کې دغه عزت نه وینم.

په ۱۹۸۴ زېږدیز کال کې یې د نوبل نړېوالې جایزې لپاره د سولې د مبارزې په لړ کې نومول شوی و ، خو د وخت د سیاست (پښتون دشمنه پالیسی) له کبله یې مخه ډب شوه . فخر افغان یو له هغو ۴۴ هندي او د سیمې نوموتو مبارزو شخصیتونو په کتار کې د هند د حکومت لخوا یاد شوی چې په لړ کې یې ورته د بهارت رتنا چې د هند تر ټولو لویه ملي جایزه ده هم ورکړې . همدا رنګه د جواهر لال نهرو ملي جایزه یې هم په برخه شوې . د افغانستان د پخواني پاچا غازي امان الله لخوا ورته د افغانانو د ویاړ لقب ورکړ شوی او د راوروسته لومړي ولسمشر داود خان لخوا ورته د افغانانو د ملي مبارز او مفکر جایزه ورنومول شوې په دی توګه د عدم تشدد دغو مبارزینو کی یوه تر ټولو نامتو او وتلی څیره د باچاخان وه، چې د ډیر بوډاتوب په عمر کې هم د خپل ملت په غم کې و. د پاکستانی نظامی سردمدار جنرال ضیاءالحق د حکومت په توره دوره کې یې د بوډاتوب او ناروغی سختې ورځې او شپې تیرولې، ترڅو چې ډیر ضعیف او د دغی ناروغی د ډیر شدت له امله په کال ( ۱۳۶۶ ش.) کې د دلوې په اوله د چهارشنبی په ورځ ، په محلی وخت؛ د سهار په څلورو بجو او په پنځه څلوېښت دقیقو د پیښور په لیډی ریډنګ روغتون کې وفات شو، او جنازه یې د وصیت سره سم د جمعې په ورځ د ( ۱۳۶۶ ش) کال د دلوی په دریمه (۱۹۸۹م) د جنوری په شلمه په ډیر درناوی د ننګرهار په مرکز جلال اباد کې په ډیرو درنو مراسمو سره خاورو ته وسپارله شوه، چې د افغانستان د هغه وخت ولسمشر یې په جنازه کې ګډون درلود. له جنازې سره یې د کوزې پښتنخوا ګڼ شمیر ملی مشران، فرهنګی او علمی څیرې، مخور، د ولس معزز سپین ږیری او زرګونه ځوانان جلال آباد ته راغلي وو. د افغانستان له ګڼ شمیر ولایاتو پوهان، لیکوالان او د سیمو مشران جلال اباد ته راغلی وو چې د ده د جنازې کټ ته یې اوږه ورکړې وه. اوس یې نوم لکه لمر ځلاند او خاطرات یې تلپاتې دي. الله پا ک دې فردوس جنت ورته په نصیب کړي. امین.



د بشیر دودیال د نورو لیکنو لپاره، پر عکس کلیک وکړی



برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com